# د بلخ په پوهنتون کی درسي ستونځی

**Author:** Shoib Safi

د افغانستان په دوهم لوی پوهنتون کی محصلین د زړو درسی موادو، خرابو تجهزاتو او ټیټی سوئی او د لیلیی د ژوند سره مبارزه کوی.

د بلخ په پوهنتون کی محصلین د ورځی لخوا د زړو او له موده لویدلو کتابونو څخه چه اکثره ئی په روسی ژبه لیکل شویدی، زده کړی کوي او د زده کړو څخه وروسته هغوی دا ډول لیلیی ته د آرام کولو له پاره ځی چه هلته تشنابونه خراب دی، برق یا بریښنا پکښی نه شته او د چښلو اوبه ئی ډیر محصلین د نس ناستی په ناروغی اخته کړیدي.

د بلخ په پوهنتون کی زده کړه یو آسان کار نه دی، خو بیا هم هلته څلور زره محصلین په زده کړو بوخت دی چه د مزارشریف د شمال لویدیځ په څه نا څه (۳۰۰) کیلو متره کی د کابل د پوهنتون څخه وروسته د هیواد د اتو پوهنتونو د جملی څخه په دوهم لوی پوهنتون بدل کړای شویدی.

یوازی د کابل پوهنتون چه د طب، انجنر، اقتصاد، ژورنالیزم، حقوقو او ساینس پوهنځی لری، د بلخ د پوهنتون په پرتله پکښی زیات محصلین په زده کړو بوخت دی.

د بلخ د پوهنتون د طب د پوهنځي محصل ذبیح الل په چټکی سره هغه ستونځی په ګوته کړی چه نوموړی ور سره مخامخ دی او د جګړی او سولی راپور ورکولنکی ټولنی ته ئی وویل: په درسی موادو کی عصری او مربوطه معلومات نه شته او هم اکثره کتابونه په روسی ژبه لیکل شویدی. نوموړي زیاته کړه: موئږ لابراتوارونه نه لرو او زموئږ ټول زده کړه په نظری ډول تر سره کیری.

هغه وویل: کله چی موئږ غواړو چه اضافی زده کړه وکړو، موئږ پخپله ژبه لیکل شوی کتابونه موندلای نه شو او دا زموئږ یوه لویه ستونځه ده.

د لیلیی حالت هم د محصلینو دپاره ښه نه دی. د انجینری د پوهنځی د دریم کال محصیل عنایت الله د لیلیی حالت ډیر خراب بیان کړ او وئی ویل: په لیلیه کی د بریښنا او اوبو د سیسټمونو حالت ډیر خراب دی.

نوموړي زیاته کړه: په لیلیه کی اوبه د ورځی یوازی د دوو ساعتونو دپاره موجودی وی او د همدی امله موئږ د تشنابونو څخه پرته د همدی دوو ساعتونو څخه استفاده نه شوای کولای، ولی چه بیا وروسته دهلیزونه د ډیر خراب بوی څخه ډک وی. هغه وویل: موئږ د چښلو صحي اوبه هم نه لرو او اکثره وخت محصلین د نس ناستی په ناروغی اخته وي.

نوموړي زیاته کړه: مقاماتو تر اوسه زموئږ همدی ستونځو ته هیڅ پاملرنه نه ده کړی.

د بلخ د پوهنتون رئیس پروفیسر حبیب الله دا ومنله: چه په لیلیه کی یو لړ ستونځی شته. او د جګړی او سولی راپور ورکونکی ټولنی ته ئی وویل: سږ کال موئږ د نورو ولایتونو څخه ډیر محصلین قبول کړیدي چی هغوی د اوسیدو ځای نه لری او د همدی امله د لیلیی د څلورو تنو دپاره په جوړو کړه شوو کوټو کی دولس تنه محصلین ژوند کوی. نوموړي زیاته کړه: موئږ د بلی لیلیی د جوړولو دپاره ځای نه لرو او په موجوده لیلیه کی د (۱۹۸٦) میلادی کال څخه د ترمیم کار روان دی.

هغه وویل: د لیلیی د بریښنا او اوبو سیسټمونه خراب شویدی او په کوټو کی ئی الماری، هنداری او نور د اړتیا وړ سامان الات نه شته.هغه همدارنګه زیاته کړه: په لیلیه کی محصلین په ډیرو سختو شرائطو کی ژوند کوي.

خو د فوکس په نامه یوی غیر حکومتي تعلیمی مؤسیسی د مرستی پریکړه کړیده او د پوهنتون د ټولګیو او هم د لیلیی د پخلنځی د ترمیم کار به ډیر ژر پیل شی.

همدارنګه حبیب الله د اکبرد مؤسسی، د کابل پوهنتون او د ایران د حکومت لخوا د نژدی (۲۰۰۰) کتابونو په تر لاسه کولو خوښی څرګنده کړه او و ئی ویل: چه همدا کتابونه به د ژبی ستونځه حل کړی.

هغه وویل: زموئږ اکثره درسی مواد په روسی ژبه دیاو زموئږ محصلین د هغوی څخه ګټه نه شوای اخستلای، خو همدا نوي را رسیدلی کتابونه به د محصلینو سره ډیره مرسته وکړی.

شعیب صافی د کابل یو آزاد او خپلواکه ژورنالست دی.

**Location:** Iraqi Kurdistan
Iran

---

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/d-blkh-ph-pwhntwn-kh-drsy-stwnh